# PAKISTAN | پاکستان

**USCIRF– RECOMMENDED FOR COUNTRIES OF PARTICULAR CONCERN (CPC)**

د نړیوالي مذهبي ازادۍ لپاره د امریکه د متحده ایالاتو کمېشن (یو اېس سي آی آر اېف) د متحده ایالاتو د فدرالي حکومت یو خپلواک او دوه ډله ییز کمېشن دی چې ملک د ملک نه بهر د مذهب یا د عقیدې د آزادۍ د عالمي حق څارنه کوي. په 1998 کې د نړیوالي مذهبي آزادۍ د قانون (آی آر اېف ای) لخوا جوړ شوی یو اېس سي آی آر ایف په خارج کې له مذهبي یا عقیدوي ازادیو د سرغړونو د څارنې لپاره د نړیوال معیارونو څخه استفاده کوي او صدر، خارجه سکرټري، او کانګرس ته د پالیسیو د جوړونې لپاره سپارښتنې ورکوي. یو اېس سي آی آر اېف یو خپلواک کمېشن دی او د متحده ایالاتو له خارجه وزارت نه جدا دی. د کال 2021 په کلني راپور کې کمشنرانو او مسلکي کارکوونکو د خپل یو کال پایله څرګنده کړې چې ترسره کیدونکی زور زیاتی ثبت کړي او اوس د متحده ایالاتو حکومت ته د تګلارو په لړ کې خپلواکې سپارښتنې ورکوي. د 2021 کال په کلني راپور کې د جنورۍ 2020 نه تر د دسمبر 2020 پورې موده شامل کړی شوي ده، که څه هم په ځینو مثالونو کې *له دغه مودې مخکې یا وروسته مهمې پېښې هم یادې شوې دي. د یو اېس سي آی آر اېف په هکله نور معلومات [دلته](#) ترلاسه کړئ، یا د یو اېس سي آی آر اېف سره په 3240-523-202 مستقیم رابطه وکړئ.

## مهم حقایق:

په کال 2020 کې، په پاکستان کې د مذهبي آزادۍ حالت زیات بدتره شو. حکومت په سیستماتیک ډول د توهین رسالت او احمدي فرقې خلاف قوانین نافذ کړو او په دې کې ناکامه شو چې د مذهبي اقلیتونو خلاف د افراطي ډلو د سرغړونو مخه ونیسي. په هدفي وژنو، د توهین رسالت په کېسونو، په زور د مذهب د بدلولو او د نفرت په ویناوو کې چې د احمدیانو، شیعه ګانو، هندوانو، عیسایانو او سکهانو په شمول مذهبي اقلیتونو پکې په نښه شوي ډېر زیاتی راغلو72.

د مذهبي اقلیتونو سره د پاکستان د چلند ارزونه د احمدي ټولنې سره د چلند نه معلومیدی شي، چې دغه ټولنه د خپلې مذهبي عقیدې او ځان د مسلمانانو په ګڼلو سره د سخت رسمي او ټولنیز ځورونې سره مخامخ شو. په دغه کال کې د احمدیانو په هدفي وژنو کې ډېر زیاتوالی راغلو. د جولای او نومبر په میاشت کې، پنځه احمدیان ووژل شو، چې په کې 57 کلن امریکایي تبعه طاهر نسیم هم شامل و، چې د توهین رسالت په تور تورن و او د جولایي په میاشت کې په عدالت کې دننه وویشتل شو.

د مۍ په میاشت کې، حکومت د اقلیتونو حکومتي کمېشن (NMC) جوړ کړ چې د عدالتسپریم کورټ د 2014 فیصلې ته یې اړتیا لرله، البته په دې کې احمدي فرقه په شامل نه کړل شوه. د هغوی د ممکنه شاملولو په بحث کې، د پاکستان د مذهب او مذهبي هم آهنګۍ د چارو وزیر، نورالحق قادري په رسمي توګه وویل، «هر هغه څوک چې د [احمدیانو] سره همدردي او خواخوږي لري، هغوی نه د اسلام او نه د پاکستان وفادار دي». حکومت د قادري یا نورو چارواکو د دغه بیانونو څه حل لاره راونه ویستله چې په دې کې د احمدي او نور مذهبي اقلیتونو خلاف د نفرت او نه زغم وینا شوي وې.

په مذهبي توګه د پاکستان د توپیري چلند قانون، لکه د توهین رسالت او د احمدیه فرقې خلاف قوانین د میډیا د نوي مقرراتو سره په شریکه استعمالیږي، چې د بشري حقونو سرغړونه په کې کیږي او د مذهبي اقلیتونو لپاره په عمومي توګه د نه زغم داسې یو ماحول رامنځته کوي کوي چې اکثر د تاوتریخوالي، تبعیض او توپیري چلند لامل کیږي. یوازې د اګست په میاشت کې، له 40 څخه زیات اېف آیي آر (FIRs) د توهین رسالت په حواله ثبت شوي و، چې په کې زیاتره شیعه ټولنه د محرم په میاشت کې په نښه کړل شوي وه.

نور مذهبي اقلیتونه هم د توهین رسالت د الزامونو الزامونو له کبله په نښه کړل شوي و. د سپتمبر د میاشت پورې، د توهین رسالت د الزامونوالزامونو په حوالې سره 25 عیسایان، چې په کې اووو ته د مرګ سزا اورلو شوي وه، د پاکستان په جیلونو کې قید کړی شوي و. په دې کسانو کې آصف پرویز هم شامل دی، هغه 37 کلن عیسایي دی او د کپړو په فیکټرۍ کې کار کوي او د لاهور عدالت ورته د سپتمبر په میاشت کې د مرګ سزا اورلې ده.

د تښتولو، اسلام ته په جبري توګه د اړولو، په زور د زنا او د جبري واده مسله د مذهبي اقلیتونو د ښځو او ماشومانو، خصوصاً د هندو او عیسایي مذهبونو لپاره یو ستر ګواښ پاتې شوی دی. په کال 2020 کې، USCIRF د جبري واده راپورونه ثبت کړې وي چې په دې کې له نیمې څخه زیات د ماشومانو و. حکومت د جینکو د خوندیتوب لپاره دې باره کې ډېر لږ څه وکړو چې خپلو کورنیو ته یې واپس کړي. چارواکو اکثر په دې هکله څه اقدام نه دی اخیستلی او د تښتونو هغه کېسونه چې عدالت ته وړاندې کړی شوي دي، په هغې کې چارواکو دا ادعا کړې وه چې دغه قربانیان په خپله خوښه اسلام ته اوړیدلي دي. په جبري توګه د مذهب بدلولو په هکله د پارلماني کمیټې مشر، سېنېټر انورالحق کاکړ ادعا کوي چې د مذهبي جبري اړونې زیاتره کېسونه ((تر څه حده پورې د جینۍ په رضا ترسره شوي دي)). پاکستاني عدالت هغه قربانیانو ته په انصاف ورکولو کې پاتې راغلی، چې اکثر په زور دا شاهدي ورکوي چې هغوی پخپله خوښه خپل مذهب بدل کړی څو ځان او خپلې کورنۍ د نور زیان او نقصان نه بچ کړي. د اپرېل په میاشت کې، د سکول یوه 14 کلنه عیسایي جینۍ د ټوپک په زور وتښتول شوه. که څه هم مایره شهباز پولیسو ته بیان ورکړو چې هغې ته نشه ورکړل شوي وه، جبري زنا ورسره شوې او په زرو یې د تښتوونکي هغه اسناد لاسلیک کړي، کوم چې وروسته د دې لپاره وکارول شو چې هغه 19 کلنه وه او په خپله خوښه یې دا واده کړې او مذهب بدل کړی دی، عدالت په دې کېس کې دا مر وکړ چې هغه باید تښتوونکي ته واپس کړل شي.

## متحده ایالاتو ته سپارښتنې

- چې پاکستان ((د خصوصي اندېښنې ملک  ملک) یا CPC وټاکي، ځکه چې د مذهبي آزادۍ په هکله په منظم، روان او سختو سرغړونو کې ملوث دی، لکه څنګه چې د نړیوال مذهبي آزادۍ قانون (IRFA) تشریح کړې دي او د دې په نتیجه کې دا قرار داد لیرې کړي چې انتظامیه د دې نه برای الذمه کړي چې بل قسم قانوني اقدام ترسره کړي.
- د IRFA د برخه (c) 405 له مخې پکار ده چې  د پاکستان سره په شریکه دا موافقه وکړي چې د مذهبي آزادۍ د سرغړونو د حل کولو لپاره به مهم اقدامات ترسره کوي، چې په دې کې به دا لاندې اقدامات شامل وي، خو ولې د دې پورې محدود نه:
    - ګستاخي کوونکي قیدیان او هغه نور کسان خوشي کړي چې د خپل مذهب یا عقیدو له کبله نیول شوي دي.
    - د ګستاخۍ او احمدي فرقې خلاف قوانین فسخ کړي. تر څو چې دا نوي فسخ شوي، نو د ګستاخۍ په حوالې سره د ضمانت په جرم کې اصلاحات وکړي، چې د تور لګوونکي له خوا په کې ثبوت ته اړتیا وي، د سینیر پولیس چارواکو له خوا صحیح پلټنه یقیني کړي، چارواکو ته اجازه ورکړي چې هغه الزامونهالزامونه  ختم کړي د کومو چې ثبوتونه نه وي ترلاسه شوي، او د جزایي قانون برخې تطبیق کړي چې له مخې یې د دروغو او غلط الزامونهالزامونه  قانوني جرم وګڼي.
    - افراطیت یا افراطي نظریه ختم کړي چې اکثر په اقلیتونو د حملې لامل کیږي، په داسې حال کې چې د نظر د آزادۍ ساتنه وکړي.
    - هغه کسان مسؤل وګڼي چې د تاوتریخوالي، هدفي وژنو، جبري مذهب بدلولو او د نفرت په نورو جنایتونو کې ککړ وي یا دا تشویقوي.
    - د عامې زده کړې په درسي کتابونو، تعلیمي نصاب او استاذان د ټریننګ په موادو کې بدلون راولي څو دا یقیني کړي چې په دې کې په ورکړل شوي موادو کې د مذهبي اقلیتونو خلاف څه تبعیض یا توپیري چلند شتون نه لري.
    - د شناخت په اسنادو کې د مذهب د شناخت شرایط ختم کړي.

- د پاکستاني حکومت په هغه ادارو او چارواکو سزاګانې تطبیق کړي کوم چې د مذهبي آزادۍ په حوالې سره په جدي سرغړونه کې مسؤل دي او پکار ده چې د دغه کسانو مال او جایداد ضبط کړي او/یا د بشري حقونو اړوند د اقتصاد او ویزې د چارواکو د قانون له مخې د ځانګړي مذهبي آزادۍ د سرغړونو له کبله متحده ایالاتو ته د دوی راتګ بند کړي.

د متحده ایالاتو کانګرس له پکار ده چې:

- په پاکستان کې د مذهبي قیدیانو د خوشي کولو وکالت وکړي، چې په دې کې جنید حفیظ، رمضان بي بي، شفقت ایمانوول او شفقت کوثر شامل دي.

### د USCIRF مهمې سرچینې او فعالیتونه

- په پالیسی کې بدلون: Pursuing an IRFA Binding Agreement
- اورېدنه: Blasphemy Laws and the Violation of International Religious Freedom
- د مذهبي قیدیانو د پروژې قبلونه: Ramzan Bibi

## پس منظر

په پاکستان کې 96.28 فیصد آبادي د مسلمانانو ده (85-90 فیصد سني، 10-15 فیصد شیعه او 00.22 فیصد احمدي) او د هندوانو لږ شان آبادي (1.6 فیصد)، عیسایان (1.59 فیصد) موجود دي، او دغه راز سکهان، بدایان او زرتشت په کې (له 1 فیصد څخه کم دي). پاکستان په کال 1956 کې اسلامي جمهوریت وټاکل شو چې اسلام له په کې خصوصي حیثیت ورکړل شو (د مثال  په توګه، یوازې د دې ملک   صدر او وزیر اعظم یوازې یو مسلمان جوړیدی شي). د دې اساسي قانون تش په نامه د مذهبي آزادۍ ساتنه کوي، داسې چې د مذهب پر اساس له تبعیض څخه منع کوي او نورو مذهبونو او د مذهبي تعلیمانو د حق تضمین ورکوي. په آیین کې په نېشنل اسمبلۍ کې د مذهبي اقلیتونو لپاره 10 سیټونه ټاکل شوي دي، څلور په سېنېټ کې ټاکل شوي دي او 23 سیټونه په څلورو صوبايي اسمبلیانو کې ټاکل شوي دي. البته، دویمه قانوني لایحه چې په کال 1974 کې اضافه شوي ده، هغه احمدیان غیرمسلمه ګڼي او هغوی د دغه استازیتوب څخه وباسي.

## د ګستاخۍ قوانین

د پاکستان جزایي قانون د برخه 295 او 298 له مخې هغه اقدامات او وینا جرم ګڼل کیږي چې په کې د یو مذهب سپکاوی شوی وي یا په کې د قرآن شریف، پیغمبر محمد (ص)، د عبادت د ځایونو یا مذهبي سمبولونو سپکاوی شوی وي. دا شکي قوانین اکثر د احمدي، شیعه مسلمانانو، هندوانو، عیسایانو، سکهانو او نورو خلاف د غلطو الزامونو  لګولو لامل کیږي او د اکثریت سني طبقه فکر د اسلام سره څه تړاو نه لري. په قانون کې سختې سزاګانې ټاکل شوې دي، چې د مرګ سزا په کې هم شامل ده. که څه هم ځینې کسانو د مرګ سزاګانې ترلاسه کړې دي، پاکستان د

ګستاخۍ په الزام د مرګ سزا نه ده ورکړې. د USCIRF راپور څرګنده کړې چې د ګستاخۍ دې قوانینو د ګستاخۍ په حوالې سره د اقداماتو او ټولنیز تاوتریخوالي له کبله د کال 2014 او 2018 ترمنځه پاکستان په نړۍ کې سخت سرغړونه کوونکی ملک وګرځولو.

په کال 2020 کې، ځینې هغه کسان چې د ګستاخۍ الزامونه پرې لګیدلي و، خوشي کړی شول. ساون مسیح عیسایي ته په کال 2014 کې د مرګ سزا اورول شوي وه او بیا د کال 2020 په اکتوبر کې د لاهور هایي کورټ بري کړو. رمېش کمار ملهي، چې د څناورو یو هندو سرجن دی، په هغه په کال 2019 کې الزام ولګیدو چې د قرآن مجید په پاڼو کې یې خلکو له د څناورو درمل ورکړي ول، هغه د 2020 کال په مارچ کې په عدالت کې خوشی کړی شو. د مالهي کلېنیک د ګستاخۍ د الزامونو نه وروسته وسوزول شو. د مرګ د ګواښونو له کبله هغه په پټه ژوند کولو.

د پنجاب حکومت د جولایي په میاشت کې د اسلام د بنیاد د خوندیتوب بیل پاس کړو، چې په دې کې یې آیي ایس پي آر، مېډیا او د پاکستان وسله وال پوځ د عامه اړیکو څانګې ته دا اختیار ورکړو چې کوم مواد د اسلام خلاف وي، په هغې نظر ساتي.

## مخ پر زیاتیدو نه زغم او د نفرت وینا

بااثره سني اسلامي افراطیان او ګروپونه په فعاله توګه د نفرت وینا ته وده ورکوي او د دیجیتالي پلېټ فارمونو او عامه خطبو له لارې د مذهبي اقلیتونو خلاف تاوتریخوالي ته خلک راپاروي. دغه افراطي ګروپونه په شیعه مسلمانانو باندې تور لګوي چې په پاکستان کې یې کورونا وایرس پیل کړی دی، چې دې ته "شیعه وایرس" وایي، او د حکومت او مېډیا دا ادعاوې هغوی تشویقوي چې دغه وایرس د هغه زایرینو څخه راغلی کوم چې د ایران نه واپس راغلي ول. همدغه راز، د حکومت په دې کې ناکامه کیدل چې د نفرت د وینا مخه ونیسي او مذهبي هم آهنګۍ ته وده وکړي، د خلکو د تاوتریخوالي لامل شو. د سپتمبر په میاشت کې، وروسته له هغه چې سني افراطیانو په کراچۍ کې د شیعه ګانو خلاف احتجاجونه وکړو، د خلکو هجوم په کوهاټ تخنیکي یونیورسټۍ کې د شیعه زده کوونکي د وژلو هڅه وکړه، په داسې حال کې چې نورو کسانو په چارسده کې یو مشر کس په نښه کړو.

## د عبادت په ځایونو بریدونه

د پاکستان د هندوانو او سکهانو ټولنه د خپل مذهبي ځایونو په هکله هم د تبعیض او ناوړه چلند سره مخ دي. په کال 2020 کې، افراطي کسانو د هندوانو او سکهانو د عبادت پنځه ځایونه وران کړل. د جولایۍ په میاشت کې، حکومت د سخت دریځه اسلامي ملیانو او هغه سیاستدانو د فشار له کبله په اسلام آباد کې د هندوانو د عبادت ځای تعمیر ودرولو، کوم چې دا دلیل بیانوي چې د حکومتي پیسو ټاکل د دغه ملک د اسلامي شناخت سره په تصادم کې دی. حکومت په ښکاره دغه ریډیکالي اسلامي مفکورې رد نه کړې چې په دې سره د مذهبي زغم او مذهب د آزادۍ لپاره ډیر لږ ځای پاتې شو.

## د احمدي فرقې خلاف قوانین

د آیین د دویمې قانوني لایحې نه علاوه، چې له مخې یې احمدي غیر مسلم ګڼي، د پاکستان جزایي قانون د برخه (b) 298 او (c) 298 له مخې احمدي، چې ځان مسلمانان ګڼي، له دې څخه منع کوي چې هغوی د مسلمان په توګه خپل شناخت وکړي او ځان مسلمان وګڼي. هغوی د مدني حقونو د ترلاسه کولو لپاره، لکه د ووټ ورکولو حق، دې ته اړ کړل شوې دي چې یوه اعلامیه لاسلیک کړي او په هغې کې دا تایید کړي چې هغوی مسلمانان نه دي. هغوی د قرآن شریف یا حدیثو د بیانولو څخه منع کیږي، د قرآن شریف متن نه شي څرګندولی، خپله عقیده نه شي شریکولی، د خپل مذهب اړوند مواد چاپ کولی یا ترلاسه کولی نه شي، یا خپل د عبادت ځای ته ((جومات)) نه شي ویلی.

## د متحده ایالاتوستره پالیسي

پاکستان د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ د سولې په هوکړه کې کلیدي رول لوبولی و چې دغه هوکړه د 2020 کال د فبرورۍ په میاشت کې په دوحه کې ترسره شوي وه. د هغې وخت صدر، ډونلډ جی ټرمپ په دې سیمه کې د متحده ایالاتو د خوندیتوب د ګټو لپاره د پاکستان په اهمیت باندې ټینګار کړی و، خصوصاً د افغانستان د سولې په پروسه او له افغانستان څخه د متحده ایالاتو د عسکرو په راویستلو کې. د هغه وخت د جنوبي او مرکزي اسیا د چارو لپاره د پرنسپل مرستیاله سکرټري آف سټېټ ایلایس وېلز په جنورۍ کې اسلام آباد ته راغلي وه څو د پاکستان سره په افغانستان کې سولې ته ودې او سیمه ییز ثبات په برخه کې د دې د همکارۍ او مخ پر زیاتیدونکي دوه اړخیزه اړیکو په هکله خبرې اترې وکړي. په کال 2020 کې، پاکستان تقریباً ټول ټال 299 ملیارده ډالره مرسته له متحده ایالاتو څخه ترلاسه کوله، چې د کال 2019 په نسبت له 766 ملیارده ډالره څخه ډیره کمه وه.

د اپرېل په میاشت کې، د نړیوال مذهبي آزادۍ لپاره ځانګړي استازي سیمول ډي. براؤن بیک د کورونا وبا په ترڅ کې له پاکستان څخه وغوښتل چې مذهبي قیدیان خوشي کړي. د جون په میاشت کې، هغه د شیعه ګانو خلاف د جذباتو په هکله اندیښنه څرګنده کړه. د جولایۍ په میاشت کې د طاهر نسیم د وژلو وروسته، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت له پاکستان څخه وغوښتل چې خپل د ګستاخۍ په قانون او د عدالت په سستم کې اصلاح وکړي. د اګست په میاشت کې، د هغه وخت سکرټري آف سټېټ مایيکل آر. پومپیو د پاکستان د آزادۍ په ورځ یو بیان خپور کړو، او وی ویل چې متحده ایالات به د پاکستان سره همکاري وکړي چې بنیادي حقونه یقیني کړي. د دسمبر په 2 مه، د بهرنیو چارو وزارت پاکستان د IRFA د لاندې د CPC په توګه بیا وټاکلو، خو یو ځل یې بیا د کوم اړوند بندیزونو په هکله ردونه صادره کړه ((لکه څنګه چې د متحده ایالاتو د ملي ګټې لپاره مهمه ده)).